# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د مارچ لسمه | ۶۹٤مه گڼه


## کتاب

۴ مخ

### ژوند او نزاکتونه




ټولنیز نزاکتونه او اداب چې په ټوله انساني ټولنه کې د یو اصل په توګه مطرح کېږي، دا هغه څه دي چې شاید په ځینو ټولنو کې په مذهبي او جنسیتي لحاظ ډېر کم توپیر وکړي؛ خو په ټوله کې ټولو انساني ټولنو منلي دي.

# د سولې بهیر د چټکتیا په لټه؛

## په دوحه او مسکو کې د سولې بهیر د بریا لپاره هڅې روانې دي



۳

د سولې وروستیو هڅو ته معقول غبرګون

۲ مخ

د چین مقننه قوه؛ له نورو متفاوته او یوه بېله بڼه

۲ مخ

روز جهانی زن؛ مراسم نمادین راه حل چالش‌های زنان افغانستان نیست

۳ مخ

### کرنې ریاست: روان کال د خوست په دولتي قوریو کې ۱۷ نیم زره نیالګي روزل شوي



د خوست د کرنې ریاست چارواکي وایې، چې روان کال د یاد ولایت په دولتي قوریو کې ۱۷ زره او ۵۰۰ مېوه لرونکي او بې مېوې نیالګي روزل شوي او ترڅنګ یې د ولایت د مقام په وړاندیز له ننګرهار ولایت څخه پنځه زره او ۵۰۰ نیالګي غوښتل شوي، چې په نږدې راتلونکي کې به خوست ته ورسېږي او د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې به کېښودل شي.

د خوست د کرنې رییس حفیظ‌الله شاه نوري وایې، چې د چهار مغزو، بادام، زردالو، انار، املوک، زیتون او لاچي څلور زره او ۵۰۰ نیالګي په لندرو واټرشید کې کرل شوي او سر بېره پر دې، لس زره د بیري نیالګي د کرنې له وزارت څخه غوښتل شوي، چې په نږدې راتلونکي کې به خوست ولایت ورسېږي.

نوري ویلي «د دولتي بنسټونو، بڼوالو او بزګرانو له خوا به سږکال په خوست کې په ټولیزه توګه ۲۶۳ زره او ۹۴۶ مېوه لرونکي او بې مېوې نیالګي کېښودل شي.»

### واشنګټن پوسټ: بایډن له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو په تړاو هڅې ډېرې کړي

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو او د سولې پروسې د ناڅرګند برخلیک په اړه یوه لیکنه خپره کړې ده.

سرچینه کاږي، امریکا د سولې خبرو او دغه راز د امریکایي سرتېرو د ایستلو د نامعلوم برخلیک له امله په افغانستان کې له طالبانو سره د واک د وېش لپاره د لنډمهالي حکومت طرحه وړاندې کړې ده. د ورځپاڼې په باور، بایډن په دې سره هڅه کوي چې له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو وتلو ته زمینه برابره کړي او په همدې هدف یې د ایران په ګډون د افغانستان له نورو ګاونډیو هېوادونو سره تماسونه ډېر کړي دي. د یادونې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ولسمشر غني ته یو لیک استولی دی او په یاد لیک کې خبرداری ورکړل شوی دی چې دوی د خپلو سرتېرو ایستلو مسئله تر غور لاندې نیولې او که چېرته افغان دولت د سولې برخه کې چټک ګامونه وانه خلي، نو ښایي طالبان د خپل کنټرول ساحه نوره هم پراخه کړي.

د بلېنکن دغه لیک او د امریکا د حکومت نوې طرحې په افغانستان کې د حکومتي چارواکو او سیاسیونو غبرګونونه راپارولي دي. ځینو سیاستوالو دا طرحه د افغانستان په ګټه بللې، خو د ولسمشر د لومړي مرستیال په ګډون ځینو حکومتي چارواکو ورسره مخالفت ښودلی دی.

### وکیلان: حکومت دې بهر ته د سرو زرو او ډالرو د قاچاق مخنیوی وکړي



۵ مخ

### رئیس جمهور غنی پس از چندین سال با دوستم در ارگ دیدار کردند



محمداشرف غنی، رئیس جمهور پس از چند سال با مارشال عبدالرشید دوستم، معاون اول اسبق ریاست جمهوری در ارگ دیدار کرده است.

چنان‌که اعلام شده است، محور گفت‌وگوی دو طرف در این دیدار، اوضاع جاری کشور، اجماع ملی برای موفقیت روند صلح و وضعیت امنیتی کشور بوده است.


تاکنون ارگ ریاست جمهوری درباره این دیدار چیزی نگفته است، اما راحله دوستم با انتشار ویدیوی این نشست در فیس‌بوکش گفته است که در این دیدار روی اوضاع جاری کشور و روند صلح گفت‌وگو شده است.

گفته شده است که این دیدار برای یک‌ونیم ساعت دوام کرده است. در این نشست، افزون بر رئیس جمهور و مارشال دوستم، حمدالله محب مشاور امنیت ملی، باتور دوستم عضو هیأت مذاکره‌کننده دولت و راحله دوستم، منشی مجلس سنا نیز حضور داشته‌اند.

این نخستین دیدار رئیس جمهور غنی با مارشال دوستم پس از اعطای مارشالی است. مارشال عبدالرشید دوستم، رهبر حزب جنبش ملی در نهم حوت پس از دو سال دوری از پایتخت از جوزجان به کابل برگشت.

مارشال عبدالرشید دوستم در مقام معاون اول ریاست جمهوری در دوران حکومت وحدت ملی روابط گاه تیره‌ای با رئیس جمهور غنی داشت.

مارشال دوستم در دورانی که معاون اول ریاست جمهوری بود، برای مدتی به صورت اعلام نشده در ترکیه در تبعید بود و خود نیز گفته بود که کسانی مانع برگشت او به کشور شده‌اند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د سولې وروستیو هڅو ته معقول غبرگون

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر لیک او د سولې لپاره د انتقالي حکومت طرحې په کابل کې چارواکي وارخطا کړې دي. دوی نه پوهېږي چې څنگه غبرگون وښيي او څه وکړي. له همدې امله وېره ده چې د دوی دریځ به ستونزې لا زیاتې کړي. دې حالت په حکومت کې دننه د ارگ او د سولې عالي شورا ترمنځ هم واټن پیدا کړی دی. د سیاستوالو او حکومت ترمنځ واټن خو لا پخوا و. له همدې امله د معقول او سم دریځ شونتیا نشته.

د امریکا له خوا د انتقالي حکومت طرحې ته غبرگون او په دې اړه د پرېکړې لپاره پکار ده، چې په کابل کې چارواکي او سیاستوال سره یوه خوله وي او داسې دریځ خپل کړي چې له سولې سره مرسته وکړي او د افغانستان گټې خوندي کړي. دا چاره به د افغان لوري دریځ پیاوړی کړي او ممکنه خطرونه به را کم کړي.

تر اوسه پورې د سولې په پروسه کې اساسي ستونزه دا ده، چې د ولس او حکومت، سیاستوالو او چارواکو او آن د حکومت په منځ کې اختلافات دي. د سولې پروسه اوس حکومتي چارواکي د خپل شخصي واک او ځواک د خوندیتوب له زاویې گوري. دوی د سولې هره هڅه له دې امله تخریبوي چې د دوی واکمني وغځېږي. سیاستوال بیا په دې هڅه کې دي، چې د سولې پروسه دوی بیا په قدرت کې ورگډ کړي. دوی د دې لپاره هڅه کوي، چې داسې یو جوړښت رامنځ ته شي چې بیا پکې واک ووېشل شي او دوی ته هم پکې ونډې ورسېږي. له بده مرغه حکومت او سیاستوال دواړه د دې پر ځای چې سولې ته د ولس د هیلې او غوښتنې په سترگه وگوري، یوازې د خپلو شخصي گټو او قدرت له زاویې ورته گوري.

په حکومت کې دننه او د حکومت او سیاستوالو ترمنځ اختلاف د دې سبب شوی، چې هم د سولې په پروسه کې خنډ او ځنډ پېښ شي او هم داسې بدلونونه راشي چې راتلونکی یې له گواښ سره مخ کړي. د حکومتي چارواکي د واک غوښتنې هڅې د سولې پروسه شاوخوا یو کال وځنډوله چې له امله یې زرگونه افغانانو ته مرگ ژوبله واوښته. اوس هم د سولې هرې هڅې ته له همدې زاویې گوري. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر لیک او د سولې د انتقالي حکومت طرحې ته یې هم غبرگون له همدې زاویې دی. سیاستوال هم هڅه کوي چې په گډوډۍ کې د ځان گټې خوندي کوي، ځینې یې د حکومت له خوا امتیازات اخلي او تر څنگ یې ودریږي او ځینې بیا د حکومت په مخالفت کې دي او د هرې هغې هڅې هرکلی کوي، چې حکومت له پښو غورځوي.

د سولې د وروستیو هڅو او د امریکا د طرحې په اړه باید یوه ملي اجماع رامنځ ته شي. یا لږ تر لږه د سیاستوالو او حکومت یو واحد غږ پیدا شي. دا غږ باید معقول او د سولې او افغانستان په گټه وي. حکومتي چارواکي باید ومني چې نور یې وخت ختم دی او سوله حتمي راځي. دوی باید د واک پر ځای د سولې لپاره کار وکړي. سیاستوال هم باید درک کړي، چې سوله تر گردو مهمه ده او دوی باید واک ته د را گرځېدو لپاره هر څه ته لاس وانه چوي. له همدې امله یو گډ او سم دریځ پکار ده چې له بده مرغه تر اوسه پورې نشته.

# د چین مقننه قوه؛

## له نورو متفاوته او یوه بېله بڼه

نقیب الله مل




مخکې له دې چې د چین مقننې قوې د سیستم په اړه خبرو او معلوماتو ته لاړ شم، ښه ده چې لومړی د پارلمانونو په اړه یوه لنډه مقدمه او څو خبرې وکړم. نن په نړۍ کې ډېری هیوادونه د پارلمانونو یا پارلمانونو ته د ورته مجلسونو لرونکي دي، ښايي تر ډېرېلو نومونو، ځانگړتیاوو، سیستمونو او جوړښتونو لاندې وي چې پر هغه بحث او خبرې نه کوم، خو همېشه یې موجودیت او اړتیا د یو قانونمند او منظم دولت د درې گونو قواوو څنگ په څنگ کار او همکارۍ مهمې دي او د درې ضلعي مثلث چوکاټ تکمیلوونکي په توگه یې رول مهم او ارزښتناک دی. پرته له تقنیني قوې دولتي چوکاټ نیمگړی دی او د یو بشپړ ولسواک دولت نوم او خطاب ورته نه شي کېدلی.

د پارلمان کلمه اصلاً د فرانسوي ژبې ده، چې د خبرو اترو، سلا مشورو کولو او ورکولو مانا لري. په بېلابېلو هیوادونو کې پارلمانونه متفاوت او بېل جوړښتونه، سیستمونه او نومونه لري، لکه موږ چې په افغانستان کې د پارلمان لپاره ملي شورا (ولسي جرگه او مشرانو جرگه)، په چین کې ملي ولسي کانگرېس او ملي مشورتي کنفرانس، په روسیه کې دوما، په پاکستان کې نیشنل اسمبلي، په مصر کې مجلسه شعب او په ایران کې ورته د اسلامي شورا مجلس نوم کارول کیږي.

پارلمانونه د یو قانونمند او ډیموکرات نظام په اډانه او اساس جوړونه کې خورا مهم او ارزښتناک بلل کیږي، په همدې بنا د ډېرو هیوادونو په نظامونو کې یې رول او ونډه د یوې باصلاحیته قوې په توگه جوته او څرگنده ده.

د چین ولسي جمهوریت مقننه قوه له دوو مجلسونو جوړه او رامنځته شوې ده، چې د ملي ولسي کانگرېس او ملي مشورتي کنفرانس په نومونو یادېږي.

د دود له مخې، کله چې د چین د دوو ملي مجلسونو عمومي ناسته پیل کیږي، په لومړۍ ورځ غونډې ته د صدر اعظم لخوا د دولتي شورا او د نورو حکومتي مسوولینو په استازولۍ د کلني کاري راپور لنډیز وړاندې کیږي او هم د راتلونکي کال د کاري پلانونو عمده محتویات تشریح کیږي.

چین په نړۍ کې د یو لوی نفوس لرونکي هیواد په توگه، همداسې یې مقننه قوه هم د لویې او ځواکمنې قوې په توگه یادیږي، چې د غړو او استازو د شمېر له مخې په نړۍ کې تر ټولو ستره مقننه قوه ده. د چین د سږني ملي ولسي کانگرېس د غړو شمېر ۲۹۵۴ تنه دی، چې د غړو شمېر یې له ۳۰۰۰ زیاتیږي. په دې جمله کې د ولایتي کانگرېسونو د غړو شمېر ۱۰۰۰ تنه دی. د مرکزي حکومت تر واک لاندې ښارونو، کورواکو سیمو، خاصو اداري سیمو د استازو شمېر ۶۵۰ تنه دی او د قانون له مخې د ملي لږکیو وگړي په ملي ولسي کانگرېس کې د یو یو استازي لرونکي دي. د بلې خونې یانې د ملي مشورتي کنفرانس د غړو شمېر ۲۱۵۸ تنه دی. د دواړو خونو د غړو او استازو تقنیني دوري پنځه کلنې دي.

د ملي ولسي کانگرېس غړي د ولایتونو، ښارونو، کورواکو سیمو، د خاصو اداري ځایي کانگرېسونو د غړو لخوا ټاکل کیږي. د ملي مشورتي کنفرانس غړي بیا د ولایتي، ښاري او کورواکو سیمو د دایمي کمېټو په خوښه ټاکل کیږي، چې پکې د ټولنې بېلابېلې برخې او صنفي اتحادیې ځای لري، لکه استادان، پوهان، ډاکتران، سوداگر، سپورټي ستوري، مخکښان، بزگران، زیارکښان او نور.

د چین د دغو دوو ملي مجلسونو کلنۍ عمومي ناستې په کال کې یو ځل معمولاً د مارچ میاشتې په لومړۍ اونۍ په پلازمېنه بېجینگ کې د لسو ورځو لپاره دایرېږي او په لویو هیوادونو، مهمو مسئلو، داخلي او بهرنیو تگلارو ټاکلو کې د قوانینو او اصلاحاتو په اړه سلامشورې، نظرونه او وړاندیزونه مطرح کوي.

د دوو ملي مجلسونو کلنیو غونډو ته په چین کې د کال تر ټولو د مهمو سیاسي ناستو په توگه کتل کیږي، چې د مهمو تصمیمونو او د مهمو پرېکړو نظرونو تبادلې پکې کیږي. د رایو په اتفاق تر ټولو بهترین او د غوره تصمیمونو لپاره کوم چې د خلکو او هیواد په گټه وي، مطرح کیږي او ورته لومړیتوب ورکول کیږي. استازي د ملت او ولس په استازولۍ ورته رایې ورکوي، د خپلو رایو له لارې یې د قانون په چوکاټ کې راولي او په دې توگه یې له قانوني اعتبار او ځواکه برخمنوي.

د چین د دوو ملي مجلسونو پېژندنه

د چین ملي ولسي کانگرېس او ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس د چین دوه ملي تقنیني، د قانون جوړولو او پرېکړه کولو باصلاحیته ارگانونو په توگه یادیږي. دلته د دې دواړو تقنیني ارگانونو پر لنډه معرفي باندې خبرې کوو.

لومړی؛ ملي ولسي کانگرېس د چین ولسي جمهوریت د سیاسي نظام بنسټ بلل کیږي او د اساسي قانون له مخې، ملي ولسي کانگرېس د هېواد تر ټولو اوچت باصلاحیته او مقتدر تقنیني ارگان دی، چې غړي یې د ولایتي، ښاري، کورواکو سیمو، خاصو اداري سیمو او د ولسي ازادي بښونکي پوځ کانگرېسونو د غړو خپلمنځي ټاکنو له لارې ټاکل کیږي. د چین هر هغه تبعه چې د اتلس کلنۍ عمر ته رسېدلی وي او پر ټاکل شوو شرایطو برابر وي، د نوماندېدو حق لري.

د ملي ولسي کانگرېس په راس کې یوه دایمي کمېټه قرار لري او په تشکیل کې یې نور کمېسیونونه تر بېلابېلو نومونو لاندې کار او فعالیت کوي، چې مسوولیتونه او د کاري موضوعاتو د ساحو حدود یې معلوم او مشخص دي. د دې جرگې د غړو ماموریت موده پنځه کلنه ده او هر کال یې یوه کلنۍ عمومي غونډه په پلازمېنه بېجینگ کې تر سره کیږي. د ښځینه او نارینه استازو د ټاکنې تر منځ کوم توپیر او امتیاز نشته او د برابرو حقوقو لرونکي دي. په ملي ولسي کانگرېس کې اوس د ښځینه استازو ونډه ۲۵ سلنه ده.

د سږ کال د ۲۰۲۱ کال د مارچ پنځمه د چین دیارلسمې دورې ملي ولسي کانگرېس د څلورم کال کاري ماموریت عمومي غونډه د ۲۹۵۴ استازو په گډون جوړه شوه. استازي د حکومت کاري رپوټ اوري او د رپوټ او کارونو ارزونه کوي.

د چین ملي ولسي کانگرېس د مهمو واکونو لرونکی دی، لکه د اساسي قانون او نورو اړوندو قانوني مصوبو، تقنیني فرمانونو، سندونو او سترو ملي قراردادونو ته د تایید یا رد ته رایه ورکول، په قوانینو کې د اصلاحاتو، تعدیلاتو راوستل او د دولت رییس (جمهور رییس) او مرستیالانو ټاکل یا عزل کول د دولتي شورا د غړو، وزیرانو، قاضي القضات او لوی څارنوال ټاکل یا گوښه کول دي. د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ ملي پلان یا ستراتیژۍ تصویبول او په بېړنیو حالاتو کې د جگړې یا روغې جوړې د پرېکړو کول دي.

دویم؛ ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس په چین کې د څو گوندي همکاریو او سیاسي مشورو تر یو چتر لاندې د همکاریو او سیاسي مشورو نظام دی. په ټول چین کې له ځایي او سیمه ییزو کمېټو څخه د پوهنیزو، مسلکي اکاډمیکو ارگانونو، مرکزونو، د سیاسي گوندونو، د لږکیو قومونو مخورو او مشهورو څېرو چې د محبوبیت، صداقت او د ښو ورتیاوو لرونکي وي، متخصصینو، استادانو او زیارکښانو له استازو جوړ شوی دی. څرنگه چې دا ډله غړي اکثره ستري علمي څېرې دي، د پراخو تجربو او نظریو لرونکي دي او عمده دندې یې د سیاسي چارو په اړه د سلا مشورو ورکول او ازاد خپلواک نظارت کول یې له مهمو دندو دي. د دوی په راس کې یوه دایمي ملي کمېټه قرار لري او هغه چې د گوندونو او مسلکي ساحو گروپونو لخوا ټاکل کیږي، د هرې دورې کمېټې د غړو شمېر د تېرې دورې کمېټې په رییسه غونډه کې تر تصویبېدو وروسته د دایمي کمېټې لخوا اعلانیږي، چې د ټولو ولایتونو، کورواکو سیمو او په هغو ښارونو کې چې د مرکزي حکومت د مستقیمې اداري تر واک لاندې دي، په (بېجینگ، شانگهای، تیان جین، چونگ چینگ) کې سیمه ییزې دایمې ځانگې او د کمېټو منظم تشکیلات یې فعاله دي.

د چین ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس د سږنۍ دیارلسمې دورې د څلورم کال عمومي کاري غونډه د ۲۰۲۱ کال د مارچ په څلورمه د ۲۱۵۸ غړو په گډون جوړه شوه. د دې مجلس د غړو کاري موده هم لکه د ملي ولسي کانگرېس غړو په شان پنځه کلنه ده. د دې جرگې هم کلنۍ غونډه په کال کې یو ځل تر سره کیږي، چې له ملي ولسي مجلس سره تقریباً په یو وخت کې او هممهاله وي.

# اتمر: د امریکا د نوې طرحې په اړه تر مشورو وروسته پرېکړه کیږي

د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر وایي، خلک باید د افغان سولې په اړه د امریکا د نوې طرحې په اړه اندېښنه ونه لري. اتمر له بي بي سي سره په ځانگړې مرکه کې ویلي، د دې طرحې پر ټولو اړخونو مفصلې خبرې او سلا مشوره کېږي او بیا به پرېکړه کېږي.

نوموړي ټینگار کړی، چې د دې طرحې اساسي ټکي د افغانستان د خلکو له ملي گټو سره سمون لري، خو زیاته یې کړه چې د ځینو برخو په اړه یې باید سلا مشورې وشي.

دا په داسې حال کې ده چې، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن افغان ولسمشر محمد اشرف غني او د افغانستان د ملي مصالحې د عالي شورا مشر عبدالله عبدالله ته په یوه استول شوي لیک کې د افغانستان د راتلونکي اساسي قانون او دولتي جوړښت، د یوه نوي ټولشموله



حکومت او په دې هېواد کې د تلپاتې اوربند خبره کړې ده.

حنیف اتمر ویلي: «په دې بررسي کې به زموږ لپاره تر ټولو مهم اصل د افغانستان د خلکو، زموږ د ملي گټو اصل وي. پر هغه بنسټ به تصمیم نیسو. دولت باید اول خپلو منځو کې مشوره وکړي. بیا باید له سیاسي او وطني مشرانو سره مشوره وکړو، شورا سره باید مشوره وشي او بیا تصمیم پرې ونیسو. هېڅکله به د افغانستان دولت عجولانه تصمیم په دې خبرو ونه نیسي ».

هغه زیاته کړې، چې افغان دولت په ترکیه کې د سولې د خبرو ترسره کېدو په اړه مثبت نظر لري، خو دوی باید پوه شي چې دا غونډه په کومه کچه او د څه لپاره کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح په افغانستان کې راتلونکي دولتي جوړښت او طالبانو سره د سیاسي جوړجاړي په اړه د امریکا له نوې طرحې سره مخالفت ښودلی و.

نوموړي ورمه ورځ په کابل کې یوې غونډې ته وویل، په دې طرحه کې د افغان ولس رایې ته ځای نه دی ورکړل شوی او زیاته یې کړه چې په هېڅ شرایطو کې څوک حق نه لري چې له افغانانو د رایې حق واخلي.

نوموړي وویل، دوی چمتو دي چې یو سیاسي جوړجاړي ته د رسېدو لپاره د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر نېټه خبرې وکړي، خو د افغانستان پر اساسي قانون هېڅکله هم معامله نه کوي.

امرالله صالح وایي، له امریکا سره د افغانستان اړیکې پر شریکو گټو ولاړې دي، خو که داسې حس شوه چې امریکا د افغانستان گټو ته درناوی نه کوي، نو افغان حکومت به ولس ته سپینه خبره کوي.

# روز جهانی زن؛ مراسم نمادین راه حل چالش‌های زنان افغانستان نیست

**مرسل سیاس** - فعال حقوق بشر

در این مطلب که برای صفحه ناظران بی‌بی‌سی فرستاده شده بود، نویسنده معتقد است که تجلیل از ۸ مارچ؛ روز جهانی همبستگی زنان در افغانستان محدود به مراسم رسمی و «نمادین» است. به عقیده نویسنده، تجلیل از روز زن باید به چالش کشیدن واقعیت‌های زندگی زنان افغانستان باشد.

«انتخاب کنید که به چالش بکشید»، شعار سال ۲۰۲۱ سازمان ملل متحد برای ۸ مارچ؛ روز جهانی همبستگی زنان است. شما که زن هستید، مدافع حقوق زن هستید، فمینست هستید و یا مدافع حقوق بشر هستید چه چیزهایی را به چالش کشیده اید؟ زمانی که نامی از زن افغانستانی و یا زنان محصور در جغرافیایی به شدت بسته و مردسالار برده می‌شود، تصویری که شما از زن افغانستانی مقابل چشمتان نقش می‌بندد از چه کسی است؟ کی‌ها را به چالش کشیدید؟ آیا به چالش کشیدن سبب تغییری در عرف نابرابر و جامعه مردسالار شده است؟

جشن گرفتن روز جهانی زن در کابل و دو سه شهر بزرگ دیگر، هدیه دادن به کارمندان زن و غذای چاشت، دورهم جمع کردن کاری ساده و نمادین است.

روز زن گفتن و مبارک گفتن، جمع کردن چند نفر زن تحصیل کرده برای جشن‌های نمادین از طرف وزارت‌خانه‌ها و ادارات، هدیه دادن‌ها و عکس گرفتن با کف زدن برای وزیران، نمایندگان پارلمان و مقام‌ها کاری ساده، بی‌دغدغه و بی‌چالش‌ترین نوع تجلیل است. این نمایش‌ها تنها می‌تواند در دو سه شهر کلان هم‌همه برپا کند و سرویس‌های خبری رسانه‌ها را برای یکی دو روز پر بسازد، اما آیا واقعاً کسی جسارت یکی زنان را که در مناطق شرقی در یکی از همین مراسم ارج گذاری از روز زن گفته بود: «هر کسی که می‌گوید زن ناقص العقل است خودش ناقص‌العقل است». و مورد تحریم و فشارهای مختلفی از سوی شورای علما (روحانیان) افغانستان قرار گرفت را به یاد دارد؟ علاوه بر مردان، حتی زنان حاضر در آن مراسم نیز او را به توهین به حدیث پیامبر اسلام متهم کردند که بعداً حرف‌هایش برای حفظ جان و آبرویش توجیه و تعبیر و حتی عذرخواهی از شورای علمای ولایت کنر گردید. بعد از گذشت سال‌ها در شورای علما و در کنر از این تحریم و این عذرخواهی با افتخار یادآوری می‌شود.

زمانی می‌توانیم جامعه را جامعه باز، مترقی و دیموکرات و مزین با ارزش‌های حقوق بشری بدانیم که تمایز و تفکیک‌های جنسیتی را به حداقل برسانیم. در جامعه‌ای که در کارگاه آموزشی، وقتی نوبت معرفی اشتراک کننده‌ها می‌رسد سه زن کارمندی که در ردیف نخست دور میز نشسته اند، جرأت نمی‌توانند که قبل از همکار مرد خود را معرفی کنند و شروع معرفی از نفر چهارمی که مرد است آغاز می‌شود.

زمانی که به دروازه یکی از نهادهای معتبر دولتی با کارت رسمی، مکتوب رسمی و لباس رسمی می‌رویم و در مخابره صدا می کنند «یک مرد است و یکی دیگه هم همرایش» اوج فاجعه را می‌توان دید. می‌توان درک کرد که چقدر فاصله وجود دارد تا مردم بفهمند زنان هم وجود دارند، و متعلق و وابسته و چسپیده به یک انسان دیگر نیستند. ببینید! زنان حضور دارند، راه می‌روند، فعالیت می کنند، خودشان هستند اگر بگویی یک مرد و یک زن و یا دو نفر هیچ مشکلی ندارد، زمین و آسمان به هم نمی‌خورد، فقط به حیث انسان شناختش کافیست، نه بیشتر نه کمتر.

زمانی که با کارمندان زن در یکی از ولایت‌ها به صرف غذای چاشت می‌رویم و تا چشم برهم زدن زنان را نمیتوانی پیدا کنی بعد دنبال می‌کنی صاحب هوتل می‌گوید فلان جا نشسته بعد می‌بینی حقیرترین قسمت هوتل با چادرهای چرک و کهنه پوشانده شده و زنان کارمند نیز تن به نشستن در چنان جایی داده اند، می‌فهمیم که چقدر راه مانده برویم تا به برابری برسیم.

**امیدی هست؟**

شعار سردادن، دعوت چند زن آوازخوان، مدل، تیک تاکر، زنان با دنبال‌کننده‌های زیاد در شبکه‌های اجتماعی به مناسبت روز زن دردی از زنان ولایت کنر که همیشه در خانه‌اند و در شهر اثر و نشان کمی از آنها، بیرون از خانه می‌بینی دوا نمی کند.

تحفه دادن چادری و دعوت به غذای چاشت و گرفتن چند عکس از محفل‌ها برای شبکه‌های اجتماعی و سایت‌های رسمی، لگدی از فرق فرخنده‌ها، سنگی از تن رخشانه‌ها، گلوله‌ای از جسم ملاله‌ها و مینه‌ها برنمی‌دارد. تبریکی روز زن اشک را از چشم مادری را که فرزندش کشته شده و با شکم گرسنه یتیمان بجا مانده در بدخشان خشک نمی کند.

روز قدردانی از زنان روزی است که زن کنری که اکنون با چادری به سر و لباس نظامی به تن در نیروهای ویژه مسلح به عملیات علیه پناهگاه‌های داعش می‌روند، دیگر با خاطر آسوده بدون ترس از به دست باد سپردن چادری به سر کار برود. برای من روز قدردانی از زن لغمانی روزی است که دیگر از میان کارگاه آموزشی با چادری در لغمان برای پیگیری قضیه زنان دیگر با کودکی در آغوش که هیچ‌کس در خانه مسئولیت نگهداری‌اش را به عهده نمی گیرد، برای این که نتوانیسته در کارگاه شرکت کند مجبور به معذرت خواهی نباشد. زن سرباز کودکستانی داشته باشد تا کودک‌اش را بگذارد و با خاطری آسوده و با شهامت و غرور در لباس نظامی برود.

قدر زنان زمانی دانسته شده که طفل پامیری با تریاک به خواب نرود و مادر برای سیر کردن شکمش کیلومترها راه را بر سر الاغ نپیماید.

روز قدردانی از زنان روزی است که دولت تامین اجتماعی را به بهترین شکل آن به زنان برساند. خانواده‌های دختران دارای معلولیت از حداکثر امکانات و سهولت‌ها برای افراد معلول بهره‌مند شوند و همه دغدغه‌شان به ازدواج درآوردن دختر دارای معلولیت برای رد کردن او و از سر خودشان نباشند.

با شعار امسال سازمان ملل متحد، من زنانی را به یاد می‌آورم که برای زنده ماندن، برای استقلال مالی، برای اعلام حضور مورد اهانت قرار گرفتند، مورد توهین و فحاشی قرار گرفتند؛ اما با آن هم ناامید نشدند و برای زنده ماندن، زندگی کردن و رنگ بخشیدن به زندگی به چالش کشیدند.

زنی منتقد که در پارلمان مورد بدرفتاری کلامی قرار گرفت. زنی که از دورترین ولایت به کابل می‌آید و پرونده ازدواج بدل در سیزده سالگی را با هزاران توهین و تحقیر دنبال می کند و ناامید نمی‌شود.

زنی که دست‌هایش از بافتن قالی در بامیان زخم و آبله زده و باز هم برای کسب درامد به بافتن ادامه می‌دهد. زنی که در کوه‌های نورستان حیوانات را به چراگاه می‌برد. زنی که به دلیل تفاوت لباس و تیپ اش مجبور به ترک افغانستان شد.

زنی که به دلیل درخواست تفریق، رئیس دادگاه فامیلی به او می‌گوید: «کی را پیدا کردی که از شوهرت جدا می‌شویی؟»

زنی که برای به راه انداختن زندگی به تنهایی و بدون هیچ پشتیبانی شروع به تجارت با همه سختی‌هایش کرد، و همه زنان سرزمینم. زنانی که در محدودترین شرایط با کمترین امکانات و بلندترین خشونت‌ها و تهدیدات برای زنده ماندن، برای شناختن حق شان و برای روی پا ایستادن خودشان می‌جنگند. زنانی که همیشه دست دوم دیده می‌شوند، «جنس دوم».

# د سولې بهیر د چټکتیا په لټه؛

## په دوحه او مسکو کې د سولې بهیر د بریا لپاره هڅې روانې دي



د افغانستان د سولې د هڅو چټکتیا لپاره تازه گامونه اوچت شوي دي. راپورونه وايي چې تازه په مسکو کې د افغان سولې په اړه کنفرانس جوړېدونکی دی او په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د مرستندویه دفتر مشره بیا دوحې ته تللې او هلته هڅه کوي چې د افغان سولې روان بهیر چټک شي. رسنیو ته رسېدلي معلومات ښیي چې روسیې بیا خپلې غونډې ته گڼ سیاسیون او همدا راز د افغان حکومت مهم چارواکي وربللي دي. افغان حکومت تر اوسه په دې اړه غبرگون نه دی ښودلی.

وروسته تر هغې چې د افغانستان د سولې خبرې په دوحه کې په خنډ او ځنډ سره مخ شوې د امریکا په گډون گڼو اړخونو هڅه پیل کړې چې په دغه خبرو کې پرمختگ راشي او اوسنی په ټپه ولاړ وضعیت بدلون وکړي. د سیمې د هېوادونو د هڅو په دوام تازه روسیې غوښتي چې د افغان سولې په اړه په مسکو کې یو کنفرانس جوړ کړي. رسنیو ته رسېدلي معلومات ښیي چې روسیه غواړي د سیمې د هېوادونو، طالبانو او افغان چارواکو او سیاسیونو له گډون د سولې په تړاو یو کنفرانس جوړ کړي او په دې کنفرانس کې وکړی شي چې د سولې بهیر چټک کړي او د سولې په ټپه ولاړ وضعیت بدل شي.

د راپورونو له مخې تر راتلونکو اتو ورځو پورې به مسکو د داسې یوې غونډې کوربه وي چې هدف به یې د دوحې د مذاکراتو چټکتیا او د سولې په برخه کې نوي پرمختگونه وي. سرچینې وايي چې ولسمشر غني، د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله، د چین، پاکستان، ایران او امریکا استازو او د بهرنیو چارو وزیرانو ته په دې غونډه کې د گډون لپاره بلنه ورکړل شوې ده. د ملي مصالحې عالي شوراویاند فریدون خوځون هم بیا رسنیو ته تایید کړې چې ډاکټر عبدالله ته په دې کنفرانس کې د گډون بلنه ورکړل شوې ده. د ده په خبره، د ملي مصالحې عالي شورا به په دغه غونډه کې د گډون په تړاو سلا مشورې ورکړي. هغه وايي: «دې غونډې ته افغان سیاسیونو ته د گډون بلنه ورکړل شوې ده. د ملي مصالحې عالي شورا رییس هم د بلل شوو له ډلې دی. خو معلومه ده چې گډون به پکې وکړي کنه».

بلخوا په کابل کې د ملگرو ملتونو د مرستندویه دفتر مشره دیبورا لاینز هم دوحې ته تللې ده. د یوناما له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې دیبورا لاینز به په دې سفر کې له طالب استازو او دغه راز د سولې په برخه کې له نړیوالو همکارانو سره وگوري. سرچینه کاږي چې په دې سفر کې به د سولې پر نورو گامونو او دغه راز د اوسني بهیر پر چټکتیا خبرې کوي. په اعلامیه کې راځي: «په دې سفر کې به د سولې له نړیوالو شریکانو سره خبرې کېږي. د سولې اوسنی بهیر به چټکېږي».

بلخوا راپورونه وايي چې طالبان د امریکا له لوري پر نوې شریکه شوې طرحه په خبرو بوخت دي. طالبانو ته نږدې سرچینې وايي چې ښایي دوی ډېر ژر له امریکا سره پر نوې طرحه هوکړې ته ورسېږي. پخوانی طالب چارواکو عبدالسلام ضعیف وايي چې طالبان او امریکا د زندانیانو پر خوشي کولو، د بندیزونو پر لرې کولو او نورو مهمو مسایلو خبرې کوي او ښایي ډېر ژر هوکړې ته سره ورسېږي.

دغه خبرې او پرمختگونه داسې مهال دي چې امریکا هم وايي د افغان سولې د روان بهیر د بریا امکان شته دی. رویټرز تازه د امریکا د بهرنیو چارو زوارت د ویاند له خولې ویلي چې دا ځل به خلیلزاد تر اوږدې مودې پورې په دوحه کې پاتې شي او په دې سفر کې به هڅه وکړي چې د افغان سولې بهیر یوې پایلې ته ورسوي. سرچینه وايي د افغان سولې د بریا امکان شته دی او امریکا هڅه کوي ژر تر ژره روانه جگړه ختمه شي. د طالبانو پخوانی چارواکی عبدالسلام ضعیف هم په دې باور دی چې امریکا د افغان سولې د روان بهیر د بریالي کولو لپاره جدي ده او له اقداماتو یې ښکاري چې دا ځل دا بهیر پایلې ته رسول غواړي.

# امریکا: پر سعودي عربستان د حوثیانو بریدونه خطرناک او د منلو نه دي



د سپینې ماڼۍ ویانده جن ساکي وايي، د امریکا د متحدو ایالتونو د ولسمشر جو بایډن اداره لا هم پر سعودي عربستان د ایران پلوه حوثي یاغیانو د حملو په اړه اندېښنه لري.

ساکي ویلي، سعودي عربستان د یمن د حوثي یاغیانو له درکه چې د ایران متحده ډله ده، له واقعي امنیتي گواښونو سره مخامخ دی. هغې زیاته کړې: «پر سعودي عربستان د حوثي یاغیانو د حملو دوام ته لا هم اندېښمن یو. دا حملې نه منونکي او خطرناکې دي، چې د امریکایي وگړو په گډون د کار پر مهال د ملکیانو ژوند په خطر کې اچوي. البته چې د دې ستونزې د حل لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوو.»

د سپینې ماڼۍ ویاندې پر سعودي عربستان د حوثي یاغیانو راکټي او نورې حملې واقعي امنیتي گواښ بللی دی. دا په داسې حال کې ده چې د یمن حوثیانو ورمه ورځ د سعودي عربستان د تېلو د صنعت پر عمده ساحو د بې پیلوټه الوتکو او میزایلو بریدونه وکړل. ریاض ویلي چې په دغو حملو کې چا ته د سر او مال زیان نه دی اوښتی. دغه حملې د دې سبب شوې چې د برنت په نوم د اومه تېلو د یوه بېرل بیه تر ۷۰ ډالرو جگه شي چې د ۲۰۲۰میلادي کال له جنورۍ میاشتې راهیسې تر تولو لوړه بیه ده. دا په داسې حال کې ده چې د سعودي عربستان او د امریکا د متحدو ایالتونو ترمنځ چې له لسیزو راهیسې متحدان دي، د ځینو مسایلو پر سر کړکېچ راغلی دی. د امریکا ولسمشر جو بایډن پر سعودي عربستان د بشري حقونو په برخه کې د هغه هېواد د ناسمې مخینې او په یمن کې د سعودي عربستان په مشرۍ د ائتلاف د ویجاړوونکې جگړې د ځرنگوالي له کبله فشار راوستلی دی.


د یادونې ده چې په یمن کې حوثي یاغیان له شپږو کلونو راهیسې د سعودي عربستان په مشرۍ له ائتلاف سره په مبارزه بوخت دي. دغې جگړې ته د سعودي عربستان او ایران ترمنځ د نیابتي جگړې په سترگه کتل کېږي.

## د کتاب خبري

# د جاسوسي پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

**پنځمه برخه**
**حساسې شېبې**




دوراني: دا جملې معقولې جملې نه دي.
آیا تاسو له ترهګرو سره خبرې نه کوئ؟ تاسو هر وخت له ترهګرو سره خبرې کوئ. د هر هېواد استخباراتو ته ترهګر د خبرو لپاره تر ټولو مهم کسان دي. که تاسو له ترهګرو سره، مثلاً له طالبانو سره د خبرو کانال نه لرئ، نو په غلطه روان یاستئ.
(له خبرو پرته بل انتخاب نشته)؟ کله کله یو څوک هغه وخت له ستونزې سره مخامخېږي، چې یو څوک ورته ووایي چې تاسو له خبرو پرته ډېر وخت پاتې شوي یاست، نو ولې باید داسې ورته وویل شي چې بل انتخاب نه لرو؟
(جګړه هېڅ ستونزه نه حل کوي)؟ خو جګړه ډېرې ستونزې حل کوي. یوازې ځینې ځانګړې ستونزې د جګړې په وسیله نه حل کېږي.
نو آیا خبرې او ترهګري په یو وخت نه کېږي؟ په حقیقت کې اکثره وختونه په یو وخت کېږي.
دولت: په ځانګړې توګه زموږ په مسئله کې جنرال صېب سم وایي. که له خرابو خلکو سره خبرې ونه کړې، نو له چا سره به یې کوې؟ که له خرابو خلکو سره په اغېزناکه توګه برخورد وکړې، نو تر یوه ځایه مخکې تللی شې.
دوراني: دا لکه په ماشومتوب کې چې به پر څه نه پوهېدې، نو درته ویل کېدل به چې غلی کښېنه. خو که څوک پر څه نه پوهېږي، باید ځان پرې پوه کړي او دا کار یوازې د پوښتنې کولو په وسیله کېږي، مانا دا چې له هر چا سره باید خبرې وکړې.
دولت: له همدې کبله ما هم په نورو کتابونو کې ویلي دي، چې دوه اړخيز استازي غوره دي. ماته به هر وخت ویل کېدل چې له هر هغه چا سره خبرې مه کوه، چې له ISI سره کار کوي. ما ورته ویل: زه د همداسې کسانو په لټه کې یم! که زه ISI ته ځان نشم ور رسولی، نو پرېږدئ هغه چاته یې ور ورسوم، چې ISI ته ځان ور رسولی شي. دوه اړخیزه استازي په دې کار کې ښه مرسته کولی شي.
سېنها: نو ولې له یوې بلې زاویې نه ورته ګورو: ولې ترهګري نه پرېږدو او خبرې نه پیلوو؟
دولت: دا هغه څه دي چې کشمیریانو څو ځله ویلي دي، چې که پاکستان د ترهګرۍ پرېښودل غواړي، هر وخت یې پرېښودلی شي.
دوراني: څه شی پرېږدي؟
دولت: په کشمیر کې سربازګیري. هر وخت چې پاکستان وغواړي، دا کار کېدای شي. کنټرول یې هر وخت د پاکستان او د پاکستان د پوځ په لاس کې وي. که تاسو ونه غواړئ کشمیري ځوانان به هېڅکله هم خوندي تګ راتګ ونشي کړای.
دوراني: زه ډاډه یم چې د سربازګیرۍ په اړه دولت اغېزناک تمامېدای شي، خو ما به یې هر وخت پر خلاف نظر ورکاوه. که دولت له حقاني او کشمیري مقاومت سره نه وای مخامخ شوی، په هېواد کې دننه به له نورو سره مخامخ شوی وای او د هېواد پولې دوی ته دا موقع په لاس ورکوي، چې زموږ له کنټروله ووځي. دا یو خیال دی، چې دولت په هر ځای کې دی؛ زموږ دولت اغېزناک دولت نه دی. موږ آن ددې وړتیا هم نه لرو له هغو مخالفینو سره مبارزه وکړو، چې نور یې راته روزي.
موږ نه غواړو د نفوذ وسایل له لاسه ورکړو؛ دا کار یو ځل په ۱۹۹۴ کال کې شوی دی. دا تور چې زموږ دولت د ترهګرۍ ملاتړ کوي د ګډوډۍ د رامنځته کېدو لامل شوی دی. یو چا دا ښه نظر درلود چې باید بېرته ځان ترې وباسو، دا مانا چې نفوذ په کې ونه لرو. دا کار خراب حالات رامنځته کولی شي.
نفوذ په دې مانا د صلاح‌الدین له زوی سره مالي مرستې وکړو، په دې کار سره موږ هلته کنټرول درلودلی شو او د فاجعو مخه نیولی شو.
دولت: زموږ پر خلاف ترهګري د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کې په پنجاب کې پیل شوه. بیا کشمیر ته بدله شوه. یو وخت دا اندېښنه وه، چې که دا دواړه سره یو ځای شوې، نو ستونزه به نوره هم لویه شي.
موږ د ۱۹۸۰ لسیزې په وروستیو کې د سیکانو او کشمیري جنګیالیو تر منځ د خبرو اترو په لټه کې شوو. ما د سبک زده‌کوونکو د اتحادیې له ځینو غړو سره چې له کشمیریانو سره یو ځای په زندان کې وو خبرې وکړې. ما پوښتنه ترې وکړه، چې ولې له کشمیریانو سره پر مخ نه شئ تللی؟ د دوی ځواب دا و چې کشمیریان «حوصله» نه لري. زموږ له نظره یې ځواب مثبت و.
د کشمیریانو د شور ماشور په وخت کې زه سرینګر ته په دنده لېږل شوی وم. کشمیري ځوانان تلل راتلل، کله چې مې له سیمه ییزو مقاماتو پوښتنه وکړه چې څه کیسه ده، دوی و ویل چې له پولې څخه په عادي حالت کې اوړي را اوړي، کومه لویه ستونزه نشته. دا کار د JKLF پنځو ځوانانو پیل کړی و.

**دوام لري...**

# ژوند او نزاکتونه

اکسوس کتابپلورنځی




ټولنه د ژوندیو موجوداتو هغه ټولګه ده چې له بېلابېلو قومونو او ټوکمونو څخه جوړه ده او هر شخص پکې خپل دودونه او ملګري په بېل ډول پالي.
په ټولنه کې داسې انسانان شته چې ډېر بااستعداده او د ملګرتیا وړ وي، خو ځینې داسې عادتونه لري چې په کور، له ملګرو او آن رسمي ځایونو کې یې هېر شي چې مخاطب یې څوک دی.
دا ډېره اړینه ده چې انسان په کور دننه او له کوره بهر په ورځنیو چارو کې ډېر ځیرک واوسي، ځکه چې له کور بهر ټولنیز نزاکتونه او عادتونه له کورنیو عادتونو سره توپیر لري.
هغه کړنې او عادتونه چې په کور دننه شوني دي، له کوره بهر له ملګرو او نورو عامو خلکو سره باید تر سره نه شي او یا یې هم وخت، ځای او مخاطب وپېژندل شي.
ټولنیز نزاکتونه او اداب چې په ټوله انساني ټولنه کې د یو اصل په توګه مطرح کېږي، دا هغه څه دي چې شاید په ځینو ټولنو کې په مذهبي او جنسیتي لحاظ ډېر کم توپیر وکړي؛ خو په ټوله کې ټولو انساني ټولنو منلي دي.
افغانستان چې یو له جګړه ځپلو هېوادونو څخه دی، که څه هم د نړۍ په کچه یو اصیل فرهنګ، مېلمه پالنه او دودونه لري، خو لا هم ځینې خلک یې د غربت، بې وزلۍ او بې سوادۍ له امله د ټولنیزو نزاکتونو په نه مراعاتولو سره ډېر خلک له ستونزو سره مخ کړي دي.
حبیب وقار د «ژوند او نزاکتونه» په نوم په همدې موخه چې موږ وشو کولای ټولنیز نزاکتونه مراعات کړو، دا کتاب لیکلی او تازه د چاپ په ګاڼه سمبال شوی هم دی.
هغه وایي، دا چې سیاست، اقتصاد او ستونزو د انسان پر روان اغېز کړی، هغه ده چې تر ډېره یې د انسان ژوند له ستونزو هم سره مخ کړی. هغه زیاتوي چې ټولنیز نراکتونه هم له رواني اړخه د انساني ژوند د ګډوډیو او سختیو لوی لامل دي؛ نو له همدې امله د ټولنیزو نزاکتونو او ادابو نه مراعاتول د یوې ټولنې پر فکري نابالغۍ دلالت کوي.
د کتاب لیکوال وایي، د دې کتاب له لیکلو یې موخه دا ده چې زموږ په ټولنه کې د ټولنیزو نزاکتونو په برخه کې که څه هم لږ او ډېر کار شوی، خو بسنه نه کوي، نو ځکه مې د کتاب لیکلو ته مټې رابډ وهلې.
هغه له خلکو غواړي چې له ټولنې سره داسې چلند وکړي، څنګه چې د انساني او یوې متمدنې ټولنې غوښتنه وي.
باورونه دا دي چې په ټولنه کې د ټولنیزو نزاکتونو او ادابو مراعاتول، نه یوازې د انسان د تهذیب څرګندونه کوي، بلکې له ستونزو او لفظي شخړو د ژغورنې یوازینۍ لاره هم ده.
که غواړې چې په ژوند او ټولنیز نزاکتونو پوه شې او وشې کولای چې د یو ښه انسان په توګه په دې ټولنه کې ژوند وکړې، دا کتاب ولولئ.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.


## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ناکاره بوټو د اداره کولو اساسات او عملي کړنې | او. پي. ګوپتا/یوسف خان زیار | ۲۸۰؋ |
| ۲ | د شخصت وده (له زانګو څخه تر ګوره) | بیجامین سپارک/وحیدالله سالارزی | ۱۰۰؋ |
| ۳ | پلوشه (ناول) | عتیق الله امید | ۱۰۰؋ |
| ٤ | کافر (ناول) | حزب الله سهار | ۷۰؋ |
| ۵ | یوه خبر درته وکم؟ (ناول) | نصیراحمد احمدي | ۱۰۰؋ |
| ٦ | د دوستۍ لار | ډیل کارنګي/محمدابراهیم شینواری | ۱۵۰؋ |
| ۷ | عمومي ژبپوهنه | محمدعثمان څولیزی | ۱۵۰؋ |
| ۸ | د یوویشتمې پېړۍ لیک (ناول) | محبوب شاه محبوب | ۱۳۰؋ |
| ۹ | نړیوال سازمانونه | رضا موسی زاده/محمد نظیم سمون | ۲۵۰؋ |
| ۱۰ | هیماتولوژي | ایمل شېرزی/زیارمل شېرزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۱ | سیاسي مکتبونه | فرهاد داوري | ۳۷۰؋ |
| ۱۲ | عمومي یورولوژي | عبدالقیوم فقیر | ۲۲۰؋ |
| ۱۳ | د سیاسي افکارو او نظریاتو تاریخ | شېرعلم امله وال | ۲۳۰؋ |
| ۱٤ | د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ (۱۹۱۹-۲۰۰۱) | زاهد خلیلي | ۱۰۰؋ |
| ۱۵ | دپروګرام لیکنې بنسټونه | نصیراحمد نور | ۲۳۰؋ |
| ۱٦ | اناټومي او فزیالوژي | عباس دانش | ۱۳۰؋ |
| ۱۷ | د ژوند لار | ډیل کارنګي/محمدابراهیم شینواری | ۱۵۰؋ |
| ۱۸ | د ښوونځي اداره | میرویس خالقیار | ۱۸۰؋ |
| ۱۹ | د معلوماتي ټکنالوژۍ بنسټونه | محمدیوسف مهمند او نصیراحمد نور | ۲۲۰؋ |
| ۲۰ | هایدرولیک او د اوبو لګونه | طارق تسل | ۳۵۰؋ |
| ۲۱ | د سیمه ییزو حکومتونو مدیریت | نقیب الله ثاقب او حضرت جعفر عرب | ۲۵۰؋ |
| ۲۲ | حقوق سازمان های بین المللی | فضل احمد احمدی | ۲۳۰؋ |
| ۲۳ | انساني خیرې او ناوړه کړنې | محمدیوسف رووف | ۱۵۰؋ |
| ۲٤ | بانکداري | سیدمسعود/سید داوود صمیم | ۲۰۰؋ |
| ۲۵ | مالي محاسبه | رباني زلمی | ۲۳۰؋ |
| ۲٦ | پښتو ګرامر (فونولوژي) | محمدآقا شیرزاد | ۱۳۰؋ |
| ۲۷ | ادبي فنون (بیان برخه) | محمدآقا شیرزاد | ۱۵۰؋ |
| ۲۸ | تاریخي ژبپوهنه | محمود مرهون | ۳۵۰؋ |
| ۲۹ | روش تحقیق در علم حقوق | میراخان قضاوی | ۱۳۰؋ |
| ۳۰ | ژونداونزاکتونه | حبیب وقار | ۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷ |
| € | ۹۲,۲ |
| Rp. | ۴۸۸ |
| ₹ | ۱۰۶۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۶ |

### بیړنۍ شمېرې

| | |
|---|---|
| پولیس | 119 - 100 |
| امبولانس | 112 |
| اتاترک روغتون | 0202500312 |
| ملالی زېږنتون | 0202201377 |
| وزیر محمد اکبر خان روغتون | 0202301360 |
| رابعه بلخي روغتون | 0202100439 |
| د کرونا روغتیایي مرکز | 166 |

همیانی

# د پرمختګ وړتیا

ژباړه: امان الله حنیفي

فردي پرمختګ هغه موضوع ده چې زه یې په اړه ډېر حساس یم او په دې اړه مې ډېر لیکل کړي دي، خو په دې اړه له خبرو کولو مې مطلب تاسې ته د خپل لیدلوري رسول دي.
هغه څه چې تر نورو یې زما د فکر پر طرز زیات اغېز وکړ، هغه د کارل دوک لیکل شوی کتاب «د تفکر ډول: د نوې بریا ارواپوهنه» و. دغه کتاب ډېر پر هغه څه تاکید کړی و چې له لیدلو او تجربې یې وجود درلود. دوک وایي، انسانان دوه ډوله د فکر کولو طرز لري: ځینې ثابت لیدلوري لري. مانا دا چې دوی باور لري چې ټولې شخصي ځانګړنې لکه هوش، شخصیت، خلاقیت، مهارتونه او... یې د بدلون وړ نه دي او همدا یې د ژوند کولو اساس او بنیاد دی. ځینې نور بیا پرمختګ منونکی لیدلوری لري. دا ډول کسان باور لري چې کولای شي فردي خصوصیاتو ته وده ورکړي.
دوک وایي، هغه کسان چې د ثابت فکر لرونکي دي، هغوی هر وخت د خپل ارزښت ساتلو په هڅه کې دي. هغه لیکي: «ما په درسي ټولګیو، کارځای او اړیکو پاللو کې ډېر داسې کسان لیدلي چې یوازینی هدف یې ځان ښودل دي. هر ځای د خپل شخصیت او اخلاقو د تایید په لټه کې وي. په هر موقعیت کې دا ارزونه له ځان سره کوي چې ایا بریالی به شي او که به ماتې وخوري؟ ایا هوښیار به معلوم شي او که بې عقل؟ ایا د خلکو په نظر به ښه ورشي او که بد؟ ایا ګټونکی به شي او که بایلونکی؟»
دوک وایي، هغه کسان چې پرمختګ منونکی لیدلوری لري، هغوی پوهېږي چې هڅه به کوي او پرمختګ کولای شي. هغه لیکي: «پرمختګ منونکی لیدلوری د اصلي صفتونو لپاره پر هڅې کولو ولاړ دی. ممکن خلک په غوښتنو، مهارتونو او استعدادونو کې یو له بل سره توپیر ولري، خو هر څوک کولای شي له خپلو صفتونو په ګټې اخیستنې سره خپلې تجربې بدلې او پرمختګ وکړي. ایا هغه کسان چې دا ډول باور لري، کولای شي دا هم ومني چې هرڅوک کولای شي خپلو غوښتنو ته ورسېږي؟
خیر، هغوی باور لري چې د هر چا حقیقي انرژي نامعلومه او غیر قابل د درک ده او ممکنه نه ده چې هغوی د وړاندوېینه وکړی



شي، چې په کلونو کلونو زحمت ایستلو سره بېلابېلو احساساتو او سختو تعصباتو او بېلابېلو زده کړو سره به کوم کارونه تر سره کړای شي. یا په بل عبارت، د انسان وړتیاوې نامحدودې دي او زموږ غوښتنه باید یوازې دا و اوسي چې دا کشف کړو چې څومره کولای شو هغه پیاوړې کړو.»
د دوک څېړنې ښیي چې انسان طبیعتاً له دې دوو فکرونو یو لري. زه باور لرم، هغه انسانان چې دې نړۍ ته له محدود فکر سره راغلي دي، هغوی هم کولای شي د خپل فکر طرز او عادتونه یې بدل کړي.
دوک وایي، تاسې یوازې یو انتخاب لری، کله چې له دې دوو یو انتخاب کوی، تاسې یوې نوې نړۍ ته ننوځی. دا یوه نړۍ ثابته ده چې هرڅه هوش، استعدادونه او وړتیاوې مو محدودې دي او بله پرمختګ کوونکې نړۍ ده، هلته ستاسې هرڅه وده کوي، هلته د ځان وده کول ارزوی او پر ټولو هغو اړخونو تمرکز کوی چې تاسې عملاً پکې ښکېل یاستی.
له دې دوو په یوه نړۍ کې ماتې خوړل یانې له یوې موانع سره مخ کېدل دي. کم امتیاز اخیستل، په یوه سیالۍ کې ماتې خوړل، له میدانه بیرون ایستل، منل او رټل په دې مانا دي چې تاسې هغسې چې لازمه ده، باهوشه او بااستعداده نه یاست.
په یوه بله نړۍ کې ماتې خوړل یانې وده نه کول او د خپلو ارزښتونو لاسته نه راوړل په دې مانا دي چې نه شی کولای له ټولو بالقوه وړتیاوو مو استفاده وکړی.
په دې له یوه نړۍ کې هم هڅه ډېره ښه نه ده او که وواېو تر ډېره ماتې ته ورته ده او دا په دې مانا چې لا هم تاسې باهوشه او بااستعداده نه یاست. یانې که باهوشه او با استعداده وی، هڅو ته مو اړتیا نه درلوده.
په یوه بله نړۍ هغه کې بیا هڅه هغه څه ده چې تاسې باهوشه او بااستعداده جوړوي.
تاسې له دې په کومه یوه نړۍ کې ژوند کوی؟ ایا غواړی چې بدلون وکړی؟ تاسې دا هرڅه کولای شی! په دې شرط چې تاسې ځان ته مناسبه فضا او چاپېریال جوړ کړی، څو له تاسې سره په پرمختګ کولو کې مرسته وکړي. ما د یو رهبر په حیث بېلابېل چاپېریالونه مطالعه او رامنځ ته کړي دي. د هغو کلونو په ترڅ کې چې په دې برخه کې مې تجربه کړي دي، د پرمختګ کولو لپاره د مناسبې فضا لس خصوصیات پېژندلي. د ودې لپاره مناسبه فضا هغه ځای دی چې:
۱ـ نور له تاسې لوړ وګڼئ. ایا تاسې په هغه ټولګي کې تدریس کوی چې ځان تر ټولو په لوړ مقام شمېرئ؟ که همداسې وي، دا تولګی ستاسې د ودې لپاره مناسب نه دی. باید هغه کسان پیدا کړئ چې له تاسې لوړ استعداد ولري، څو وشی کولای له هغوی زده کړې وکړی. ما خپله ټول وخت دا هڅه کړې څو هغه تر ځان چټک، ښه، باهوشه، پیاوړي او مشران خلک پیدا کړم چې وشم کولای له هغوی یوڅه زده کړه وکړم.
۲ـ تاسې پرلهپسې ننګول کېږئ. زه له دې سره مینه لرم چې هره ورځ له یو نوي موقعیت سره مخ شم، حتی که دا موقعیت زما لپاره ډېر سخت هم وي. دا باور ولرئ چې ننګونې موږ ورځ تر بلې پیاوړي کوي.
۳- پر خپل غوره شوي مسیر مو تمرکز وکړئ. انتوني رابینز وایي: «هرځای چې تمرکز وي، هلته انرژي په خوټېدو راځي.»
۴- فضا تاییدوونکې ده. کله مې چې خپله په مسلکي ډول کار پیل کړ، پلار مې راته وویل، خلکو ته په ارزښت قایل شه! پر هغوی باور وکړه او له کوم قید او شرط پرته له هغوی سره مینه وکړه. د پلار د خبرې اصلي مطلب مې د تاییدوونکې فضا رامنځ ته کول وو. هغه پوهېده او زه هم د وخت په تېرېدو سره پوه شوم چې کله خلک هڅوې، هغه په خپل ټول توان او ممکن ډول د هغه د سر ته رسولو لپاره کوښښ کوي.
۵- تاسې له خپلې محدودې امن ساحې وتلې یاست. مخکې مې د خطر منلو په اړه کاپي خبرې وکړې، نورو جزیاتو ته اړتیا نشته. یوازې دا درته وایم چې په خپله محدوده امن ساحه کې به هېڅ پرمختګ ونه کړی او بالعکس په محدوده مخ پر وده کوونکې ساحه کې هم اسانتیا نشته. د ارامۍ له محدودې ساحې د وتلو یوه لار له نویو تجربو سره مخ کېدل او د هغه منل دي.
٦- په پوره هیاجان له خوبه راپاڅېږئ. زه هره ورځ په پوره هیاجان له خوبه راپاڅېږم، ځکه پوهېږم چې غواړم له خلکو سره مرسته وکړم، کار مې په ښه ډول تر سره کړم، له هغو خلکو سره مینه لرم چې زه ورسره کار کوم او غواړم چې بدلون رامنځ ته کړم.
۷- ماتې خوړل اصلي دښمن نه دی. د ودې لپاره د مناسبې مثبتې فضا یوه ځانګړنه دا ده چې تاسې له ماتې خوړلو سره مخ کوي او یا مو حتی د ماتې تجربه کولو ته هڅوي، څو له هغه زده کړه وکړی.
۸- نور د پرمختګ په حال کې دي. څنګه چې غواړی خپلو اهدافو ته د رسېدو پر لار پرمختګ وکړی او ستاسې شاوخوا خلک هم د پرمختګ په حال کې وي، دا ستاسې لپاره ډېره ښه ده.
۹- خلک د بدلون غوښتونکي دي. جرالد بروکس وایي: «هره د پرمختګ زمینه د نوښت رامنځ ته کولو احتیاجه ده.» ایا دا خبره سمه ده؟ هو، موږ کولای شو بدلون وکړو، خو لزوماً هېڅ پرمختګ ونه کړو؛ خو که پرمختګ وکړو، قطعي ده چې بدلون به هم کوو.
تاسې دا وړتیا لری چې هم بدلون رامنځته کړی او هم له هغه سره جوخت پرمختګ وکړی. د دې هرڅه لپاره پوره پوره هڅه وکړئ.

## وکیلان: حکومت دې بهر ته د سرو زرو او ډالرو د قاچاق مخنیوی وکړي

رسنیو ته له رسېدلو سندونو ښکاري، چې په لسګونه میلیونه ډالر او په سلګونه کیلو ګرامه سره زره له هېواده بهر ته قاچاق شوي دي.
د دغو سندونو په یوې برخه کې چې باوري حکومتي سرچینې یې هم پخلی کوي، راغلي چې یوازې په یوه مورد کې د ۲۰۲۱ز کال په درې لومړنیو میاشتو کې کابو ٦۰ میلیونه ډالر او ۳۲۹ کیلو ګرامه سره زره د حیرتان له بندره په ترانزیټي توګه ازبیکستان او وروسته عربي اماراتو او قزاقستان ته قاچاق شوي دي.
بلخوا په شهزاده سرای کې سرچینې وایي چې د حیرتان بندر له لارې په ورځ کې د اته میلیونو ډالرو په ارزښت پیسې د ټرانزیټ په ډول ازبیکستان او وروسته نورو هېوادونو ته قاچاق کېږي.
د افغانستان د روڼتیا څاربنسټ رییس اکرام افضلي ویلي: «له هېواده بهر ته او له بهره هېواد ته د ناقانونه پیسو جریان یوه ډېره ښنسټیزه ستونزه ده چې افغان



حکومت د هغه په مخنیوي کې ناکام دی.»
د سندونو له مخې، د حیرتان بندر د څو تنو کارکوونکو او امنیتي مسوولانو په ګډون، زورواکي، سیاستوال او د پارلمان ځینې غړي د پیسو او سرو زرو په قاچاق کې لاس لري.
د ولسي جرګې د ځینو غړو په وینا د هېواد له بندرونو د پیسو او سرو زرو قاچاق په یوه عادي کار بدل شوی، خو دغو ناقانونه فعالیتونو ان د هېواد د ملي امنیت پر وړاندې جدي خطرونه رامنځته کړي دي.
د ولسي جرګې غړی عبدالستار حسیني وایي: «په پارلمان کې ځینې کسان شته چې د پیسو او سرو زرو قاچاق کوي او دولت هم د ملي پانګې او پیسو په چاقاق کې دخیل دی.»
د ولسي جرګې ځینې غړي پر دې باور دي چې دا مافیایي کړۍ هڅه کوي، څو له دې لارې له هېواد نه بهر تورې پیسې پر سپینو هغو بدلې کړي.
د ولسي جرګې د مالي او بودیجې کمېسیون یو غړی وایي، چې د دې ستونزې د حل لپاره یې د مالیې وزارت له چارواکو سره څو غونډې کړې دي، خو تر اوسه پر دې ستونزې غور نه دی شوی.
د ولسي جرګې د مالي او بودیجې کمېسیون غړی جاوید صافي څرګندوي: «همدا تورې پیسې دي، چې دلته راځي او سپینېږي او وروسته د مخالفینو په واک کې ورکول کېږي او په ترهګریزو بریدونو کې ... له هغې استفاده کېږي.»
له دې سره هممهاله په تاجیکستان کې سرچینې وایي چې د تېر کال په نوامبر میاشت کې د تاجیکستان د پولیسو له لوري ۹۰ کیلو ګرامه سره زر او پنځلس میلیون ډالره ضبط شوي دي. دا سرچینې وایي چې په دې تړاو د ولسي جرګې پخوانی مرستیال میرزا محمد کټوازي د تاجیکستان د بهرنیو چارو د وزیر په ګډون د دغه هېواد له جګپوړو چارواکو سره په کتنه کې د دغو پیسو او سرو زورو د بېرته ستنولو غوښتنه وکړه، خو کټوازی د پیسو او سرو زرو په قاچاق خپل لاس لرل بې بنسټه ګڼي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د مارچ لسمه | ٦٩٤یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۳ | ۱۹ | ۱۸ | ۲۴ | ۱۶ |
| ۶ | ۵ | ۹ | ۱۰ | ۱۴ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۴۸ | لمر ختل ۰۶:۱۲ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰۴:۱۵ | ماښام ۰۵:۵۷ | ماخوستن ۰۷:۱۶

## نړۍ



## امریکا: پر سعودي عربستان د حوثیانو بریدونه خطرناک او د منلو نه دي

۳

## تازه شمېرې: په امریکا کې د کرونا د مړو شمېر ۵۳۸ زره او ۷۰۸ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۷ میلیونه او ۸۷۲ زره او ۲۸۲ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ٦۱۴ زره او ۳۲۲ کسان مړه شوي او له ۹۳ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۹ میلیونه او ۷۴٦ زره او ۲۷۱ ته رسېدلي او ۵۳۸ زره او ۷۰۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۱ میلیونه او ۲۵۰ زره او ۷۵ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۱ میلیونه او ۵۵ زره او ۴۸۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د څلور میلیونه او ۳۴۲ زره او ۴۷۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د څلور میلیونه او ۲۲۳ زره او ۲۳۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## پاکستان: په اسلام اباد او نورو ښارونو کې د بریدونو نوې څپې په پیلېدو دي

د پاکستان دولت په دغه هېواد کې د ترهګریزو بریدونو زیاتېدو خبرداری ورکړی دی.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ویلي چې د پاکستان د پلازمېنې په ګډون د دغه هېواد په یو شمېر نورو ښارونو کې د ترهګریزو بریدونو نوې څپه پر لارې ده. پاکستاني چارواکي دا خبرداری وروسته تر هغه ورکوي. چې په دې وروستیو کې د پاکستان په ترټولو امنو سیمو کې په دوو بریدونو کې د یو پوځي افسر په ګډون درې پولیس وژل شوي دي. په همدې حال کې تر څو پرله پسې هدفي بریدونو وروسته، پاکستاني چارواکي مجبور شوي دي چې په اسلام اباد، کراچۍ، لاهور، پېښور او کوټه کې د خطر زنګ فعال او د سختو ورانکاره بریدونو خبرداری ورکړي.

پاکستاني چارواکي وايي چې د تحریک طالبان پاکستان وسله وال ښارونو ته ننوتي او د ورانکاره کړنو پلانونه لري. د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د پاکستان په بېلابېلو ایالتونو وسله والې نښتې او د ماینونو چاودنې زیاتې شوې چې د یاد هېواد چارواکي یې اندېښمن کړي دي. پاکستان وايي چې د دغه ډول بریدونو تر شا د هند او سیمې استخبارات لاس لري.

## معترضان: تا زمانی که والی غور برکنار نشود، دست از اعتراض‌ها نمی‌کشیم



صدها تن از باشنده‌گان غور بار دیگر در اعتراضی خواهان برکناری والی این ولایت شدند. آنان در این اعتراض‌شان با پشتی‌بانی از نظام جمهوریت و نیروهای امنیتی، بار دیگر شعارهایی بر ضد نورمحمد کوهنورد، والی غور سردادند.

معترضان در غور والی این ولایت را به ضعف مدیریتی، نفاق‌افکنی و عدم هماهنگی میان اداره‌های دولتی متهم می‌کنند. به گفتهٔ اعتراض‌کننده‌گان، از زمان تقرر آقای کوهنورد به عنوان والی غور، مشکلات امنیتی، اقتصادی و فقر در این ولایت بیش‌تر شده است.

آنان تأکید می کنند که والی این ولایت باید برکنار شود و از مقام‌های مرکزی خواسته‌اند که به‌جای نورمحمد کوهنورد، شخص کارفهم و مدیر توانایی را به عنوان والی غور بگمارد.

معترضان هم‌چنان هشدار می‌دهند تا زمانی که والی این ولایت برکنار نشود، دست از اعتراض‌شان نمی‌کشند و در اقدامات بعدی‌شان دروازه‌های تمام اداره‌های دولتی را می‌بندند.


هم‌زمان با این اعتراض، شمار دیگری از باشنده‌گان غور در چند قدمی این اعتراض به پشتی‌بانی از نورمحمد کوهنورد چادر تحصن برپا و در تجمع امروزشان به برجاماندن والی این ولایت تأکید کردند.

آنان والی غور را شخص توانا و کارکن عنوان می کنند.

با این حال، نورمحمد کوهنورد، والی غور، اعتراض باشنده‌گان این ولایت را حق مدنی‌شان می‌داند اما می‌گوید، معرضانی که بر ضد او شعار می‌دهند، کسانی‌اند که مخالف عملیات نیروهای امنیتی‌اند و بیش‌تر اختلافات قومی را دامن می‌زنند.


## ژوند

## په بدن کې د اوسپنې کمښت




د اوسپنې کمښت کېدای شي د وینې د کمښت ستونزه په بدن کې پیدا کړي، نو په دې سبب د دې ستونزې پېژندل او له منځه وړل ډېر ضرور دي. سترړیا په بدن کې د اوسپنې د کمبود تر ټولو ستره نښه ده، د انسان بدن د هموګلوبین د تولید لپاره اوسپنې ته اشد ضرورت لري. د وینې په سرو کرویاتو کې هیموګلوبین زموږ د مخ او صورت پوست ته ښکلا او تازه‌ګي ورکوي، مهمه نه ده چې پوست مو کوم رنګ لري، که چېرې مو شونډې، نوکان او د سترګو د ځړمو داخلي خوا له نورمال حالته زیات بې رنګه یا سپین شو، نو زیات امکان د دې دی چې بدن کې مو د اوسپنې اندازه کمه شوې وي. د کار او فعالیت پر مهال د ساه بندېدل یا د سینې په قفس کې د درد پیدا کېدل زیاتره وخت په بدن کې د اوسپنې د کمښت له امله وي، ځکه چې په بدن کې د اکسیجن توضیع کمېږي او بدن کوښښ کوي چې د اکسیجن کموالی جبران کړي، څو یې د کمښت له امله د سینې درد پیدا نه شي.

## ذهني تعادل څنګه تر لاسه کړو؟



که مغز؛ ماهیچې او عضلې ته ورته یو څه فرض کړو، نو څنګه چې ماهیچه د سختو تمرینونو په وسیله وده کوي، کلکېږي او قوي کېږي، دغه ډول مغز هم له ذهني هڅو وروسته بدلون کولای شي. فرض کړئ، تاسو څو میاشتې په پرله‌پسې ډول په ښي لاس ډېر او په چپ لاس لږ وزن پورته کوی او په ورزشي حرکتونو کې یې لږ کاروی؛ معلومه خبره ده چې ښي لاس ته د چپ په پرتله ډېر تمرین ورکول شوی او ښه کلک شوی دی. دا ځکه چې ښي لاس ډېر او چپ لاس لږ تمرین لیدلی. د چپ لاس دغه غیر متعادله ماهیچه هغه وخت وده کوي، چې د ښي لاس په څېر تمرین ورکړل شي، که نه، د دواړو لاسونو د ماهیچو تر منځ دغه نامتعدل والی هېڅ وخت له منځه نه ځي. نو لازمه ده چې د تمرین پر مهال چپ لاس د ښي په پرتله درې ځله زیات حرکت وکړي، څو له هغه سره یو شان شي او تعادل رامنځ ته شي. د مغز یا ذهن تمرین له فکر کولو، تصور او تجسم یا ورته نورو ذهني فعالیتونو څخه عبارت دی.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېتمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

